# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| طنز | Satire |
|---|---|


دافغانستان ازادی سازمان
۱۷ جون ۲۰۱۶

## شیخ الحدیث هیبت الله ته دمنصور وصیتنامه

په سیاست کې یو عام اصل دادی چې کله یوڅوک دپردیو په لاسو جوړشي اوبیا سیاسی ډګرته رودانګي او بیا دجوړونکو په لاس دسیاست له صحني څخه ویستل شي دهغوی بیلګه داسي دی لکه دښځی دحیض کپړه چې له یو ځل استعمال وروسته بیا نه کارول کیږی طالبان هم په همدغه فارمول کې راځي چې دپردیو په لاسو جوړ شول ، دولت یې ونیوه اودپردیو په لاسو له ساحنی څخه ویستل شول بیا به په هماغه شکل کله هم رانشي اسلامی امارت اوس یوازی دامریکی دشتون اواستخباراتی لوبووسیله دی کوم چې امریکا یې په دغه منطقه کې کول غواړی اوکوم یو یې چې دامریکي له هدایاتو سرغړونه وکړی اویا په بل چاباندی ځان خرخولو کوښښ وکړي نو هغه له منځه وړي چې منصوریې ښه بیلګه بللی شو چې په روسانو باندي ځان خرڅوه دافکرکوه چې سیاست هم دمخدره توکو تجارت دی په دغه سیاست نه پوهیده چې دقاچاقو تجارت اوسیاست ډیر تفاوتونه سره لری یوازی افغانی تابعیت په پاکستانی تبعیت اولونګی په خوالی بدلولو سره انسان نه بدلیږي اونه په هغه مهارتونو پوهیږی په کومو چې لیلا پوهیده چې دالفتح سازمان غړیتوب یې درلوده اوخپلو خلکو ته یې کارکوه .

خو به هرحال منصور هم دملاعمر په څیر داستخباراتي لوبو ښکارشو اونوره پاتی شونی به هم کیږی-- کورنۍ یې ډیره دمنصوربادرانوته نینکي نینکي شول چې له اقل سوی جسد ورته وسپاري دمنصورمورته که ژوندی وی ډیره به سخته ځکه وي چې اولاد موردزړه ټوټه وي کیدای شی هغه په دغه سیاسی لوبو ونه پوهیږی دهغې زړه ته داډ غواړو صبرجمیل ورته غواړو خو داستخباراتی لوبو پایله همدا وی چې کله به پاچا اوکله ګدا اوکله دمنصور په شان مړ خو کورنۍ دې ځکه نه خفه کیږی چې دوی دې ځان ته هغه شیپونکی مخ ته اودروی چې په ټیلفون کې په خبرو هم نه پوهیدل خو داسلام ټیکدرانو دجاسوسانو په تور حلال کړل ، دوی دځان ته هغه سپین ږیری مخ ته اودروی چې یوازی په خبرو کولو پوهیدل دوی ترورواومړه کړل ، دوی دځان له پاره هغه دننګرهار مشران چې په بمونویې کینول مخ ته اودروی چې تراوسه پوری دیوسالم ژوند څرک یې هم نوو لیدلی ، دوی دځان له پاره تیر نږدي څوارلس کاله فاجعی مخ ته اودروي چې دوی انجام کړی چې دمنځنیو پیړیو په تاریخ کې هم نه دی تیرشوی اوبیا دی دغه استخباراتی لوبي هم وګوری چې په دغه جغرافیه کی څه تیریږی دچا په ګټه ؟؟ نو کورنی دی نه خفه

کیږی دغه مملکت ټول له دردونو اوغمونو نه ډک دی یو کور داسی نشته دی چې درد یې نوي لیدلی غم یې نوی لیدلی

خو اصلی خبره دادی چې منصور هم خپله وصیت نامه هیبت الله ته په خوب کې ویلی چې ګوره ! تاخو شیخ الحدیث یې ، ډیرشاګردان لری اوډیردرته احترام کوی که نورنوی نو هلکان خو دچاپی کولو له پاره درسره وی چې په مختلفو وختو کې دې چاپي کوی که دکابل دانجونو په تمه وی چې دکابل پاچا به شي اوښایسته انجونی به درسره وی اودطالبانو مشربه وی امیرالمؤمنین به وی مزی به کوی دغه مقصد ته خدای که ورسیږی په مدرسو کې په هلکانو ست تیرول درته دکابل له پاچاهی نیولو ډیر ښه دی ځکه چې ملامشر(ملاعمر) هم ویلی وو چې زما له مرګ وروسته به په طالبانو دټوغکي مرض لګیږی یو په بل پسی به مری هماغه خبره دریاد کړه اوله دغې استخباراتی لوبی نه تیرشه ګوره زه قاچاقبروم لوی حرامونی وم دهرچاسره مې معامله کوله اوپري پوهیدم اوپاکستان داسی داډ راکړی وو چې په لنډ وخت کې به زه دکابل مشرکیږم خو هغه مهال پوهه شوم چې له روسانو سره خبروته داخلیدم چې لوبه په کوم ځای کې دی اونوره خبروته هم پري نښودل شوم هماغه دملا مشر خبره چې دچرګو په مرګ یې مړ اوپه دونیا کې جهنم راباندی ولیده اوهم مې دهندوانو مذهب ځکه وکړه ګوره دغه استخبارات داسی پیچیده لوبه کوی چې زما ذهن نه ورته رسیږی نو دیته به ځرنګه ورته ورسیږی چې تل دې مشکوة شریف درس ورکړی زه یوه بیلګه درته راوړم هغه داچې په کابل کې ځینی داسی کړی کینولی چې هغوی زموږ ترجمانی کوي ، اوتل په مطبوعاتو کې له موږ څخه دفاع کوی که هماغه خبری په کلیو کې ځوک وکړي امنیت ملی نیسي بندی کوی اومحکمی ورته لس کاله پنځه کاله حبس ورکوی خو مرکز هماغه کړیو ته هیڅ نه وایی اوټول امکانات هم .........ورکوی اوځیني په نوم روشن فکران هم ددوی بابوللي وایې نو دغه پیچیده سیاست به څرنګه .......اوکه تا فکرکوی چې قاضی القضات به شی لکه څرنګه دطالبانو په دورکې وي نو تا خدای که د قضاء په چوکی کینی ، اوکه اسلام ګڼي نو اول ځان دی بیا جهان دی اوداچې کوم دولت چې په اسلامی اناناتو ولاړوی هغه له منځه ځي کینی اسلامی تاریخ وګوره ځکه چې لومړی ادیان ډیر دی یو اوبل نه منی اسلام ټولو ادیانو پیروانو ته کفروایی بیا اسلام هم ویشل شوی دی وهابی اسلام شیعه اسلام سني اسلام دیوبندی اسلام بریلوی اسلام او......نو که اسلامی ټولنه غواړی جوړه یې کړی نو په دولت کې اسلام مه ورټومبه فرد مسلمان کړه خپل دشمایل درس ورکوه اوبیغمه خوبونه کوه کینی زما اودملاعمر په سرنوشت به اخته کیږی اوله موږ به هم بدتروی امکان دی ولری جسد دې هم څوک ونه وینی دپاکستاني استخباراتو په چلو نواوباټو به نه غولیږی بریالی انسان هغه دی چې له نورو تجربه ډیره ذدکړی اوله خپل ځان څخه کمه نو تا زما اوملاعمر له تجربو ګټه پورته کړه دسمیع الحق په خبروبه نه دوکه کیږی کینی دسیاف سره پټ تماس ونیسه چې هغوی هم د قاضی حسین احمد په خبرو غولیدل اواوس اقرارکوي چې موږ غولیدلی وو بلکې دپاکستان مذهبی ډلی داستخباراتی ځانګو خړیتوبونه لری اودهمدغه غړیتوب له لاری خپلو خیټیو ته کارکوی نو که جنت ګټي استخباراتی لوبی پریږده کینی همدغه اوس څخه ځان له پاره وصیت نامه ولیکه ترکه اوتقسیم هم وکړه-- وماعلینا الاالبلاغ

دافغانستان دازادی سازمان